COVID-19 VACCINE
Public Health Advice



# کووېډ-19 واکسین

## د کووېډ-19 واکسین مدېرنا په اړه مهم معلومات

2 نسخه
10 فبروري 2021

Rialtas na hÉireann
Government of Ireland

## د دغه لارښود په اړه

دغه لارښود تاسي ته د کووېډ-19 (کورونا وایروس) په اړه لاندې معلومات درکوي.

- کووېډ-19 واکسین څه شی دی
- لومړی به په څوک واکسین شي، ولې
- د واکسین کول ولې اړین دي
- کومو کسانو ته باید واکسین ورنه کړل شي، او کومو کسانو ته باید په ځند سره ورکړل شي
- د واکسین خونديتوب او د هغې اړخيزې اغيزې
- له کومه ځایه کولای شئ چې تاسي په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړئ

**مهرباني وکړئ دغه لارښود په احتیاط سره ویلولی. همدارنګه تاسي کولای شئ چې د واکسین په اړه د روغتیا ساتنې د متخصصینو سره لکه ستاسي د عمومي روغتیا ډاکټر یا جي پي (ډاکټر) سره په دې اړه خبرې وکړئ.**

## کووېډ-19 څه شی دی؟

**کووېډ-19 یوه داسې ناروغي ده چې ستاسي په سږو او تنفسي سيستم باندی اغیزه کوي، او ځینې وخت ستاسي د بدن په نورو غړیو هم اغیز کوي. د دغه ناروغی لامل یو وایروس دی چې د کورونا وایروس په نوم یادیږي.**

کووېډ-19 په لوړه کچه د خپرېدو وړتیا لري. دغه وایروس په هوا کې د ټوخي او پرنجي له امله د خورو شوو څاڅکو له لارې نورو ته خپرېږي، او یا هم د هغو سطحو له لمس کولو وروسته په سترګو، پزه او یا خوله باندې لاس وهل چې په هغې باندې دغه څاڅکي خواره شوي وي. کووېډ-19 کولای شي چې د جدي ناروغی، بستر کېدو او حتی د مرګ لامل هم شي.

**د کووېډ-19 اعراض او نښې په لاندې ډول دي:**

- تبه (38 درجې یا له هغې څخه لوړه تبه لرل)
- یو ډول نوی ټوخی - کېدای شي په دې کې هر ډول ټوخی شامل وي، نه یوازې وچ ټوخی
- ساه لنډي یا تنفسي ستونزې
- د بوی یا خوند حسونو له لاسه ورکول یا کمېدل – یعنې کله چې تاسې د کوم شي بوی یا مزه نه شئ حس کولای، او یا هم د هغوی اصلي بوی او مزه په بل ډول احساس کوئ

کېدی شي په تاسې کې دا ټول یاد شوي نښې شتون و نه لري، او یا هم کېدی شي تاسې له معمولي حالت څخه لږ څه بد حالت ولري. دغه ناروغي د علامو له پیدا کېدو وروسته تر 14 پورې ځان ښیې. د دغې ناروغۍ اعراض او نښې سره یا زکام ته ورته علامې دي.

که چېرې په تاسې کې د کووېډ-19 څرګند نښې پیدا کېږي، نو ځان قرنطین کړی (خپل کور کې پاتې شئ) او د GP (عمومي روغتیا ډاکټر) ته زنګ ووهئ. هغوی به تاسې ته د کووېډ-19 آزموینې لپاره تابیه وکړي.

د کورونا وایروس په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ **www.HSE.ie/coronavirus** پاڼه وګورئ او یا هم د **1850 24 1850** شمېرې له لارې HSELive ته زنګ ووهئ.

## کووېډ-19 ترټولو زیات کوم کسانو ته ګواښ مند دی؟

هغه کسان چې عمرونه یې 65 کاله یا له هغې لوړ دي او ناوړه روغتیایي ستونزې لري، ترټولو زیات په کووېډ-19 د اخته کېدو په صورت کې د جدي ناروغیو د ګواښ سره مخ دي.

د لوړ عمر لرونکي کسان چې اوږد مهاله روغتیایي پالنې په مرکزونو کې ژوند کوي، هم په کووېډ-19 د اخته کېدو په صورت کې د جدي ګواښ سره مخ دي، ځکه دا وایروس په چټکه توګه د هغو خلکو تر منځ خپرېږي چې ګډ ژوند کوي.

روغتیایي کارکوونکي د نورو په پرتله ترټولو زیات په کووېډ-19 ناروغۍ د اخته کېدو د ګواښ سره مخ دي.

## د کووېډ-19 واکسین څه شی دي؟

دا واکسین یو ډول مواد دي چې کولای شي د ځانګړیو ناروغیو پروړاندې د بدن دفاعي سیستم پیاوړي کړي. د کووېډ-19 واکسین به تاسې له کووېډ-19 ناروغۍ څخه خوندي وساتي. خلکو ته د واکسینو کولو هم کولای شي زموږ په ټولنه کې د هغو کسانو شمېره را ټیټه کړي چې د جدي ناروغیو حتی د کووېډ-19 له امله د مرګ د ګواښ سره مخ دي.

واکسین ستاسې د بدن دفاعي سیستم ته دا ښیې چې څنګه د ناروغیو پروړاندې ستاسې بدن خوندي وساتي. ستاسې د دفاعي سیستم لپاره دا ډېر آسانه ده چې د واکسین له لارې دا زده کړي، چې څنګه ستاسې بدن خوندي وساتي، او د کووېډ-19 د اخته کېدو پرځای، واکسین ډېر خوندی هم ده.

## موږ لومړی واکسین چاته کوو؟

موږ (د روغتیایي خدمتو کولووونکي) د کوویډ-19 لومړی په هغو کسانو ته یی کوو چې تر بل هر چا په لوړه کچه د ګواښ سره مخ دي. هر کله چې واکسین ایرلینډ ته راورسیږي اشخاصو ته به توضیح شي.

تاسي کولای شئ چې د هغو کسانو بشپړ نوملړ چې لومړی ورته واکسین توضیح کیږي په لاندې لینک کې وګورئ:

**www.gov.ie/covid19vaccine**

**پداسي حال کې چې د واکسین کولو خپله په تاسي پورې اړه لري، خو HSE یا د روغتیایي خدمتونو د کولو اداره په ټینګه سره سپارښتنه کوي، چې ترڅو دغه واکسین ژر تر ژره باید وکړي کله چې موږ تاسي ته د دی وړاندیز کوو. HSE دغه واکسین تاسي ته په وړیا ډول به درکړل شي.**

تاسي به دی ته اړتیا ولري چې دغه لارښود او د ناروغانو په اړه د معلوماتو لارښود د واکسین له کولو څخه د مخه مطالعه کړئ. تاسي کولای شئ د ناروغانو د معلوماتو په اړه لارښود د www.hse.ie/covid19vaccinePIL لینک له لارې وګورئ. همدارنګه تاسي کولای شئ چې د روغتیا پالنې د لوړې کچې مسلکي چاروکو سره خبرې وکړئ. که چېرې تاسي د واکسین د کولو په اړه پرېکړه کوئ، نو تاسي به په دې اړه خپل خوښي وښیئ او ستاسي دغه خوښي به ثبت کړل شي.

## زما واکسین کونکی څوک دی؟

ستاسي واکسین کونکی هغه څوک دی چې تاسي ته واکسین کوي. هغوی د HSE لخوا روزل شوي مسلکي کارکوونکي دي، لکه نرس، ډاکټر یا درمل پوه.

**د کوویډ-19 واکسینو کولو ولې مهم دی؟** د کوویډ-19 واکسین کولو کولای شي چې تاسي د کوویډ-19 له ګڼ شمېر جدي ناروغیو څخه وژغوري. خلکو ته د واکسین له کولو څخه زموږ موخه دا ده ترڅو خلک خونديي وساتو او د دغه وایروس له امله د را پیدا شویو ناروغیو او مړینې کچې را ټیټه کړو.

## زه مخکې په کوویډ-19 اخته وم، نو آیا زه اوس واکسین ته اړتیا لرم؟

هو. حتی که تاسي له مخکې په کوویډ-19 اخته واست، بیا هم د واکسینو کولو ته اړتیا لرئ. دا واکسین کول ستاسي د کوویډ-19 د بیا اخته کېدو چانس کم کړي. حتی که چېرې تاسي بیا هم په کوویډ-19 اخته کیږئ، واکسین کولای شي چې ستاسي د ناروغی شدت کم کړي.

### زه همدا اوس په کووېډ-19 اخته یم، آیا زه د واکسین کولو ته اړتیا لرم؟

نه. تاسې باید د واکسین کول تر هغې وخت پورې وځنډوئ چې ترڅو له کووېډ-19 ناروغۍ مو جوړه شئ.

**دغه کار لږ تر لږه وکړئ:**

- څلور اونۍ وروسته وکړئ او یا هم
- ستاسې د کووېډ-19 مثبتې آزموینې له تشخیص کېدلو څخه د څلورو اونیو وروسته

## د واکسینو کولو

### چیرته کولای شم دغه واکسین ترلاسه کړم؟

تاسې به دغه واکسین په تولنیز درملتون، روغتون یا د واکسین ورکولو په کلینیک کې درکړل شي.

که چیرې تاسې د اوږد مهاله درملنې په کوم مرکز کې یاست، نو تاسې ته به دغه واکسین په همدغه ځای کې درکړل شي.

که چېرې تاسې د لومړۍ کرښې کوم روغتیا پال یاست، نو تاسې ته به دغه واکسین ستاسې په کارځای یا د واکسینو ورکولو په کوم کلینیک کې درکړل شي.

کله چې په نوبت وار سره ستاسې د واکسینو د ترلاسه کېدو موقع برابره شوه، موږ به تاسې ته د اعلاناتو له لارې او یا هم په مستقیم ډول تاسې ته بلنه واستوو. اړتیا نشته چې له دې مخکې د واکسینو په اړه HSE ته زنګ ووهئ.

### کوم ډول واکسین موجود دی؟

د کومو واکسینو ورآندیز چې موږ یې تاسې ته کوو د کووېډ-19 موډېرنا واکسین ( COVID-19 Vaccine Moderna) په نامه یادېږي. دغه واکسین د موډېرنا (Moderna) لخوا تولید شوی.
دغه mRNA واکسین ستاسې بدن ته دا لارښوونه کوي چې څنګه پرته له دې چې د کووېډ-19 له ژوندي وایروس څخه استفاده وکړي، یو داسې پروټېن تولید کړي چې یو دفاعي غبرګون وښيي.

وروسته ستاسې بدن ته د نوي وایروس د داخلېدو په صورت کې داسې انټي باډي جوړوي چې وایروس سره د مبارزې په برخه کې مرسته کوي.

## د کووېډ-19 واکسین څه ډول کول کیږي؟

د کووېډ-19 واکسین ستاسې د مټ په پاسنی برخه کې کول کیږي. چې یوازې څو دقیقې وخت نیسي.

## د کووېډ-19 واکسین څو ډوزه (تکرار) ته اړتیا ده؟

تاسې به د کووېډ-19 واکسین دوه ډوزه ته اړتیا ولرې ترڅو په سمه توګه خوندي و اوسئ. تاسې باید د واکسینو دوهم ډوز له لومړي هغې 28 ورځې (پوره څلور اونۍ) وروسته وکړئ.

## آیا دا واکسین خوندي دی؟

د روغتیایي خدماتو د کولو اداره (HSE) یوازې له هغو واکسینو څخه استفاده کوي چې د خوندیتوب لوړه کچه او اغېزمنتیا له معیارونو برابر وي.

له هغه ځایه چې د کووېډ-19 واکسین د پرمختګ په برخه کې له معمول څخه په چټکۍ سره کار شوی، نو زموږ لخوا تاسې ته وړاندې کېدونکی واکسین له ټولو هغو اړینو حیاتي مراحلو پوره تیر شوی چې د یوه خوندي او اغېزمن واکسین د جوړېدو لپاره اړین ګڼل کېږي.

د دې لپاره چې واکسین د استفادې لپاره منظور شوی وي، د کووېډ-19 واکسین د خوندیتوب په برخه کې د نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره له ټولو هغو طبي آزموینو او ارزونو تېرېږي چې د نورو ټولو تجویز شویو درملو لپاره اړین ګڼل کېږي.

هغه واکسین چې موږ یې تاسې ته وړاندې کوو، د کووېډ-19 موډېرنا واکسین په نامه یادېږي.

دغه واکسین:

- ✓ د یوې کلینیکي آزموینې په پایله کې په زرګونو انسانانو باندې آزمویلي شوی دی
- ✓ مطلقا د خوندیتوب، کیفیت او اغېزمنتیا په برخه کې په پوره معیارونو برابر دی، او د نظارتي بنسټونو لخوا تصویب او جواز ورکړل شوی دی. د آیرلینډ لپاره نظارتي بنسټ د اروپایي درملو آژانس دی – د نورو معلوماتو لپاره **www.ema.europa.eu** پاڼه وګورئ.

## د واکسین جانبي عوارض څه دي؟

د نورو ټولو درملو په شان واکسین هم ښایي د اړخیزه اغېزه لامل شي. ډېری د دغو عوارضو ضعیف، لنډ مهاله او داسې دي چې په هر چا کې نه پیدا کېږي.

ښایي له 10 کسانو څخه په یوه کې یې لاندې عوارض څرګند شي:

- د ستومانی احساس
- د مټ په هغه سیمه کې چې واکسین پکې تزریقېږي حساسیت، پاړسوب، سور والی یا خارښت
- سرخوږی
- د عضلاتو درد
- د مفصلونو درد
- تبه (د 38 سانتي ګرېډ درجې یا له هغې څخه د لوړې کچې تبه)

د حنجرې فلجېدل یوائینی هغه علت ده چې په سختي سره په هر 10000 کسانو کې په یوه کې را منځ ته کېږي. په ندرت سره، هغه کسان چې پلاستیکي جراحي لري ښایي مخ یې وپرسېږي. دغه مورد د هرو 10000 کسانو ترمنځ یوازې شاوخوا یوه کس کې تثبیت شوی.

د واکسین جدي اړخیزه اغېزه لکه د حساسیت پرورېاندې عکس العمل په خورا ندرت سره لیدل کېږي چې د هرډول واکسین لپاره د یو ملیون کسانو ترمنځ په 1 شخص کې لیدل شوی. ستاسې واکسین کونکی ته روزنه ورکړل شوې ده ترڅو جدي حساسیتي عکس العملونو په اړه پوره پاملرنې سره معالجه کړي.

که څه هم دغه واکسین نوی دی او د اړخیزه اغېزه په اړه یې محدود معلومات موجود دي، خو بیا هم د کووېډ-19 واکسین لکه د نورو درملو په شان له ورته کلینیکي آزموینو او نورو ټولو تجویز شویو واکسینو په شان د خوندی تابه له ارزونو وتلی دی.

لکه څنګه چې په آیرلینډ او نوره نړۍ کې له دغه واکسین څخه استفاده کېږي، ښایي د اړخیزه اغېزه په اړه یې نور معلومات ترلاسه شي. HSE به دغه معلومات په نورمال ډول زموږ په وېبپانه کې اضافه کوي، او که چېرې اړتیا وه په هغه لاربښوونو کې به هم په دې اړه تازه معلومات اضافه شي کوم چې خلکو ته د واکسینو د لومړي او دوهم ډوز پرمهال ورکول شوي دي.

## له واکسین وروسته تبه

د واکسین له کولو وروسته تبه په بشپړ ډول یوه معمولې موضوع ده. دغه تبه معمولا د واکسین له کولو څخه د دوه ورځو (48 ساعتونو) لپاره وي، او د دوه ورځو په تېرېدو سره تبه ورکېږي. ښایي تاسې هم د واکسینو له دوهم ډوز وروسته په لوړ احتمال سره تبه وکړئ.

که چېرې تاسې د نا راحتۍ احساس کوئ، په باکس یا لاربنود کې د ذکر شویو سپارښتنو مطابق له پرستامولو یا له ابیوپروفینو دواګانو څخه استفاده وکړئ.

## آیا د کووېډ-19 واکسین په کووېډ-19 د اخته کېدو لامل کېږي؟

نه. د کووېډ-19 واکسین په کووېډ-19 د اخته کېدو لامل نه کېږي. کېدی شي تاسې د واکسینو له کولو مخکې په کووېډ-19 اخته شئ او د واکسینو تر کولو مخکې اعراضو او علامې څرګند نه کړئ.

که چېرې تاسې د کووېډ-19 ښکاره علامې لرئ، دا اړینه ده چې ځان قرنطین کړئ (په خپل کور کې پاتې شئ) او ډاکټر سره مو په تماس وکړئ ترڅو څرګنده شي چې آیا تاسې کووېډ-19 یاست که څنګه.

که چېرې تاسې د واکسینو له کولو دوه ورځې وروسته تبه کوئ یا مو تبه له دوه ورځو ډېرېږي، نو تاسې باید ځان قرنطین کړئ او د عمومي داخلي یوه GP (ډاکټر) سره په تماس کې شې، ترڅو چې ستاسې ته **د کووېډ-19** آزمویني تابیه وکړي.

که چېرې په تاسې کې له لومړي ډوز وروسته اعراض او علامې پیدا کېږي، نو تاسې بیا هم دی ته اړتیا لرئ چې دوهم ډوز واکسین وکړئ. کله چې تاسې ته له لومړي ډوز وروسته د خوندیتوب احساس پیدا کېږي، نو د دوهم ډوز کول به تاسې ته د دغه وایروس پروړاندې پوره خوندیتوب نصیب کړي.

## آیا ځینې داسې کسان هم شته چې د کووېډ-19 واکسین کولو ته اړتیا نه لري؟

**هو. باید تاسې په لاندینیو شرائطو کې واکسین ونه کړئ:**

- کله چې تاسې د واکسینو د ځینو ترکیباتو (د پولی ایتلین ګلایکولو په ګډون) پروړاندې جدي حساسیت لرئ. د واکسین د ترکیباتو لپاره د ناروغ په اړه د معلوماتو لاربښود مطالعه کړئ.
- کله چې تاسې د واکسینو د پخواني ډوز پروړاندې جدي حساسیت کړی وي.

که چېرې تاسې پخوا د کوم بل واکسین، ستن، پولیزربیټ 80 پروړاندې حساسیت کړی وي، نو تاسې باید خپل ډاکټر سره د کووېډ-19واکسینو د کولو په اړه مشوره وکړئ.

ډېري کسان به کولای شي چې دا واکسین په خوندي ډول وکړي. هغه کس کوم چې تاسې ته واکسین کوي که چېرې تاسې له هغه څخه د خپلو واکسینو د کولو په اړه پوښتنې وکړئ و هغه به ډېر خوشحالي سره به یی تاسې ته معلومات ور کړی.

همدارنګه هغوی به تاسې د پالنې اړونده مشورو په اړه یو لاربښود او د واکسینو کارت درکړي چې په هغې باندې به ستاسې نوم او تاسې ته د کولو شویو واکسینو د بستې شمېره لیکلې وي.

## که چېرې زما جدي تبه وي کولای شم د کووېډ-19 واکسین وکړم؟

نه. که چېرې تاسې تبه (د 38 سانتي ګرېډ درجې) لرئ نو باید خپل واکسین تر هغې وخت پورې وځنډوئ ترڅو حالت مو بهتره شي.

## آیا د امېندوارۍ یا تي ورکولو پرمهال د واکسینو کولو خوندي دی؟

داسي کوم ثبوت شتون نه لري چې له مخې يې دې د امېندوارۍ پرمهال د کووېډ-19واکسین کولو زيان ولري.

دغه واکسین په امېندواره ښځو په پراخه کچه نه دی آزمویلي شوی نو له همدې امله اوس مهال په دې اړه معلومات محدود دي.

که چیرې تاسي یو روغتیايي پال یاست او یا هم تر لوړ خطر لاندې یاست او امېندواره یاست، نو تاسي باید په دې صورت کې د کووېډ-19 واکسین د کولو په اړه خپل GP (ډاکټر) سره مشوره وکړئ.

## واکسین په څومره وخت کې اغېزه کوي؟

د کووېډ-19 واکسین د دواړو ډوزونو له کولو وروسته، به ډېری خلک مصؤون وي. دا په دې مانا چې د کووېډ-19 پروړاندې به خوندي وي. د دوهم ډوز له کولو وروسته 14 ورځې وخت نیسي ترڅو واکسین اغېزه وکړي.

دا چانس بیا هم شته چې د واکسین د کولو سربېره بیا هم په کووېډ-19 اخته شئ.

## آیا واکسین په هرچا اغېز کوي؟

واکسین په 18 کلنو او له هغې څخه د ډېر عمر لرونکو کسانو باندې آزمویلي شوی دی. اوس مهال دا تثبیت شوې ده کومو کسانو چې واکسین کړي هغوی 94 فیصد خوندي دي.

که چیرې ستاسي دفاعي سیستم کمزوری وي، نو د واکسینو کولو اضافي ګواښ نه را منځ ته کوي خو دومره ده چې ښایي واکسین سمه اغېزه و نه کړي.

## څنګه کولای شم د اړخیزه اغېزه په اړه راپور ورکړم؟

لکه د نورو ټولو واکسینونو په شان، تاسي کولای شئ د شکمنو اړخیزه اغېزه په اړه د روغتیايي محصولاتو د تنظیم اداري (HPRA) ته خبر ورکړئ.

HPRA د آیرلینډ په جمهوریت کې د درملو، طبي وسایلو او نورو روغتیايي محصولاتو د تنظیم اداره ده.

HPRA د درملو د مصؤنیت په برخه کې د خپل نظارتي رول د یوې برخې په حیث، یو داسي سیستم په لاره اچوي چې د هغې له طریقه روغتیايي متخصصین یا نور عام خلک کولای شي د هرډول شکمن او جانبي عکس العمل (اړخیزه اغېزه) چې په آیرلینډ کې د درملو او واکسینو په اړه وي راپور ورکړي.

HPRA د کووېډ-19 واکسینو په اړه د هر ډول شکمن اړخیزه اغېزه په اړه راپور ورکول چې وکولای شي د دغو واکسینو د خوندي او اغېزمني استفادې په اړه د دوامداره څارنې په برخه کې مرسته وکړي، په ټینګه ملاتړ کوي. د کووېډ-19 واکسین د شکمن اړخیزه اغېزه په اړه د راپور ورکولو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ وېبپاڼه **www.hpra.ie/report** وګورئ.

همدارنګه تاسي کولای شئ چې خپل ډاکټر یا د کورنۍ له غړي څخه وغواړئ ترڅو تاسي سره د راپور په چمتو کولو کې مرسته وکړي.

په هر همغه اندازه چې تاسي معلومات وړاندې کولای شي او امکان یې وي، د واکسینو د بستو تعداد هم ثبت کړې او د واکسینو د بستو شمېره هم باید ولیکل شي.

HPRA نه شي کولای چې تاسي ته په انفرادي ډول کلينيکي مشورې درکړي. د ټولنې غړي بايد د خپلو اندېښنه په اړه د خپلو مسلکي روغتيا پالانو(خپلو ډاکټرانو يا درمل پوهانو) سره په تماس کې شي.

## له واکسين وروسته تر کومې مودې پورې مصؤنيت شتون لري؟

موږ تراوسه په دې نه پوهېږي د واکسينو له کولو وروسته تر کومې مودې پورې مصؤن يو. کلينيکي آزموينې رواني دي ترڅو دغې پوښتنې ته ځواب پيدا کړي.

## کله چې زه واکسين وکړم، آيا په دې مانا ده چې نور زه د کووېډ-19 وايروس نورو ته نه خپروم؟

موږ تراوسه په دې نه پوهېږو چې د واکسينو په درېدو سره به موږ د کووېډ-19 واکسين نورو ته انتقال کړو که څنګه. نو له همدې امله اړينه ده ترڅو موږ ټول د وايروس د خپرېدو په اړه د عامې روغتيا سپارښتنې تعقيب کړو.

په لنډو کې، تاسې لاهم اړتيا لرئ ترڅو:

- د ټولنيز واټن په اړه لارښوونې (د نورو سره لږ تر لږه دوه متره واټن) په پام کې ونيسو
- له ماسک يا مخپټی څخه استفاده وکړو
- خپل لاسونه په مکرره توګه ومينځو

**د روغتيا وزارت د HSE څانګه او د روغتيا نړيواله اداره خلکو ته سپارښتنه کوي ترڅو د ورانديز په صورت کې د کووېډ-19 واکسين کولو کړي.**

**دا چې خپل ځان او نور خوندي ساتئ، له تاسې څخه مننه کوو.**

## نور معلومات

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د ناروغانو په اړه د معلوماتو لارښود مطالعه کړئ. دغه لارښود به تاسې د واکسينو د کولو په ورځ چاپ او درکړل شي، او يا هم تاسې کولای شئ د ناروغانو په اړه د معلوماتو لارښود په **www.hse.ie/covid19vaccinePIL** په پاڼه کې هم پيدا کړي.

تاسې کولای شئ همدارنګه د روغتيايي چارو د کارپوهانو لکه ستاسې عمومي GP (ډاکټر)، درمل پوه يا د روغتيا پالنې د ټيم سره هم مشوره وکړئ.

همدارنګه تاسې کولای شئ د HSE له ويبپاڼې **www.hse.ie/covid19vaccine** ليدنه وکړئ او يا هم د **1850 24 1850** شمېرې له لارې HSElive ته زنګ ووهئ.

په نورو فارمټونو کې د موادو او د ژباړې په برخه کې د ملاتړ په ګډون د کووېډ-19 په اړه د نورو معلوماتو لپاره د **HSE.ie/covid19vaccinematerials** ويبپاڼه وګورې.

## ستاسي شخصي معلومات

د واکسینو د خوندیتوب او د واکسینو د نظارت او مدیریت په اړه د ټولو اړینو معلوماتو د ثبت لپاره به HSE ستاسي د شخصي معلوماتو پروسس کوي. ټول هغه مواد به چې د HSE لخوا د عامه قوانینو او په ځانګړي ډول د معلوماتو د ساتنې د قوانینو (GDPR) مطابق چې په 2018 کې را منځ ته شول، پروسس کېږي.

ستاسي د معلوماتو پروسس به قانوني او په سم ډول ترسره کېږي. له دغو معلوماتو به یوازې د ځانګړیو اهدافو لپاره چې د واکسینو په مدیریت کې مرسته کوي استفاده کېږي. د معلوماتو د کم تر کمه ثبت کولو حد په اصل کې په پام کې نیول شوی دی.

دا په دې مانا ده چې یوازې د اړتیا وړ معلومات چې ستاسي د هویت څرګندونه کوي، ستاسي ملاقاتونه تنظیموي، ستاسي د واکسینو سجل او د هغې اغېزې نظارت کوي، ثبت کېږي.

تاسو د خپل شخصي معلوماتو په اړه چې پروسس شوي وي د GDPR لاندې د معلوماتو موضوع په توګه لاندې حقوق لرئ.

- د خپلو شخصي معلوماتو په اړه د توضیحاتو غوښتل (چې معمولاً د معلوماتو موضوع ته د لاسرسي د غوښتنې په نامه یادېږي). د دغې قانون له مخې تاسي کولای شئ د خپلو هغو شخصي معلوماتو د یوې کاپي غوښتنه وکړئ کوم چې موږ یې ستاسي په اړه لرو او همدارنګه دا حق لرئ چې ثابته کړئ چې که چېرته موږ ستاسي له معلوماتو څخه په قانوني ډول استفاده کوو که څنګه.
- د خپلو هغو شخصي معلوماتو د اصالح غوښتنه وکړئ کوم چې موږ سره دي. د دغه حق له مخې تاسي کولی شی موږ سره د نیمګړیو معلوماتو د بشپړېدو غوښتنه وکړئ.
- د خپلو شخصي معلوماتو په اړه د ډاډ اخیستو غوښتنه. د دغه حق له مخې تاسي کولای شئ له موږ نه غوښتنه وکړئ چې خپل شخصي معلومات د پروسس د دوام لپاره د اړتیا د نشتون په صورت کې پاک یا لرې کړئ. همدارنګه تاسي حق لرئ چې د خپلو معلوماتو د پروسس کولو په برخه کې د انتقاد په صورت کې له موږ څخه د معلوماتو د پاکولو غوښتنه وکړئ.
- ستاسي د شخصي معلوماتو د پروسس په اړه انتقاد.

په دې اړه نور معلومات په **www.HSE.ie/eng/gdpr** کې موجود دي.

**COVID-19 VACCINE**
Public Health Advice

د **HSE** لخوا خپور شو
د فبروري **10**مه **2021**

Rialtas na hÉireann
Government of Ireland